مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۸/۳۰

# پنځه‌دېرش کاله له تا سره

## پلار ته مې

«... د بنو وختونو له‌پاره مننه،
د سختو وختونو له‌پاره مننه،
د هر هغه څه له‌پاره مننه چې تا ماته راکړل،
او د هر هغه څه له‌پاره چې زما په وجود کې
ستا له امله جوړ شوي دي،
له تاسو نه مننه چې له ماسره مو ژوندوکړ
او تر ټولو مهم:
**مننه چې ته زما پلار وې.**

د ډنمارک د هيدرسليف نومي ښار په کومه سيمه چې زه له خپلې وړې‌کورنۍ سره ژوند کوم، د بېلابېلو هېوادونو د رنګارنګو خلکو يوه ټولګه ده. زموږ په ګاونډ کې يو پلار او زوی اوسېدل، زوی يې دينس (Deniz Lampe) نوميږي او زما له کشري زوی پسرلي بهاند سره له ډېرو کلونو راپه دې‌خوا ملګرتيا او تګ‌راتګ لري. دا هلک له جرمن پلار او ترکی مور نه زېږېدلی دی. له بده شامته چې پلار او مور يې سره جلا شوي او دينس د پلار خوا نيولې او ورسره لوی شوی دی.

څه موده مخکې مې يې پلار ليده چې ښه نه دی، د لاري سر و دی هم داسې بې‌حاله و چې د خبرو او پوښتلو نه و، ځکه مې څه ورته ونه‌ويل او هسې مو يو سلام سره وکړ. کور ته چې راغلم پسرلی مې وپوښت چې: هلکه دا د دينس پلار مړاوی راته ښکاره شو، چې دا ولې؟

هغه راته کړل چې پلاره ما تا ته ونه‌ويل چې بد اغيز به دربانديې وکړي، اوس دې چې خپله ورپام شو، درته وبه‌وايم:

هغه د ستوني په سرطان اخته شوی دی.

ما نوره خبره ورسره اوږده نه کړه. نن (۲۰۲۶/۰۸/۲۹) يې خبر راغی چې دينس بې پلاره شو.

د دينس د پلار ترمړيني وروسته بيا پسرلي زوی غږ راته وکړ چې پلاره راشه. ما فکر وکړ چې بيا دی زموږ د لويې کورنۍ يا د افغانستان په باب څه رانه پوښتي؛ خو چې ميلمستون ته ورغلم راته کړل يې چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پلاره دینس خپل پلار ته مخکي ترمړیني عجبي ادبي خبري کړي دي او اوس يې دا دی په لیکلي بڼه ما ته رالیږلي هم دي.

ما چي لیک ولوست، ومي لیدل چي ادبي لیکل شوی دی، شعري انځورونه مي په کي تر سترګوشول. د لیک منځپانګه دا پیام رسوي چي په ژوند کي د پلار اړتیا څومره مهمه ده او یو اولاد پلار ته څومره اړتیا لري. دا لیک د پلار د نشتوالي د سوځونکي درد ترتاثیر لاندې لیکل شوی دی او ژور درد او احساس لیږدوي.

د لیک لوستلو داسي اثر راباندې وکړ چي د سترګو حویلی يې راته لمده کړه او په ورستیو کرښو کي مي ستونی بڼه راډک شو.

دا دی د لیک ژباړل شوی متن کتمټ له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

## پنځه‌دېرش کاله له تا سره

## پلار ته مي

اووه اویا کلني د مړیني له‌پاره ډېرکم عمر دی،
او پنځه دېرش کلني هم ډېر کم‌عمر دی
چي څوک دې نور پلار ونه‌لري.

ځیني خلک به وایي چي تا اوږد ژوند وکړ،
کېدای شي داسي ښکاره شي، که څوک یوازې کلونه وشمېري،
خو ژوند هغه وخت اوږد نه وي،
کله چي لا هم راتلونکی پکي پاتې وي،
کله چي لا هم خبرې پاتې وي،
او کله چي لا هم ګډې ورځي زموږ مخي ته پرتي وي.

زه پنځه دېرش کلن یم، دومره لوی شوی یم چي پوه شم
زه څوک یم، د څه له‌پاره ولاړ یم،
او په کومه لاره غواړم لاړ شم.
خو لا دومره زوړ شوی نه یم
چي نور پلار ته اړتیا ونه لرم.

زما ژوند لا اوس په رښتیا
زما پر وړاندې پرانیستل کېده.
تا ولیدل چي ستا زوی خنګه یو سړی شو،
خو نور دې ونه لیدل چي دغه سړي
له خپل ژوند سره څه کوي.

همدا اوس مي پیل کړی و چي تا
یوازې د یوه ماشوم له سترګو ونه وینم،
بلکي د پلار تر شا هغه انسان هم وپېژنم.
د دې لپاره هم ما غوښتل چي نور وخت ولرم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راللیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو زه نه غواړم چې په پای کې
یوازې غم زموږ د ګډ وخت کیسه وکړي.
غم هغه کلونه شمېري چې له موږ واخیستل شول؛
خو مننه هغه کلونه شمېري چې موږ ته راکړل شول.

زما لپاره هغه پنځه دېرش کاله وو:
زما ټول ژوند تر نن ورځې پورې.

زه د ښو وختونو لپاره له تا مننه کوم:
د هرې خندا لپاره،
د هرې خبرې لپاره، د هرې خاطرې لپاره،
او د هرې هغې عادي ورځې لپاره
چې هغه مهال نه پوهېدو
یوه ورځ به څومره ارزښتناکه شي.

زه د سختو وختونو لپاره هم له تا مننه کوم.
نه د درد لپاره او نه د هغو خبرو لپاره چې موږ یې سره لرې کړو،
ځکه چې هغه هم زموږ د کیسې برخه وه،
او ځکه چې له هر څه سره ـ سره
موږ پلار او زوی پاتې شوو.

کله چې زموږ کورنۍ سره جلا شوه
او زموږ کور نور د پخوا په شان پاتې نه شو،
یوه خبره تل رښتیا پاتې شوه:
**ته زما پلار وې، او زه ستا زوی وم.**
زموږ ترمنځ هر څه اسانه نه وو.
هر زخم روغ نه شو او هره خبره ونه ویل شوه.
هر څه نه شول ښېنل کېدای او نه هر څه درک کېدای شول.
خو مرګ باید زموږ کیسه
تر هغې ښکلې نه کړي چې په حقیقت کې وه.

ځکه زموږ رښتینې کیسه همداسې کافي ارزښت لري:
له ښو او بدو ورځو سره،
له نږدېوالي او واټن سره،
له خندا او شخړو سره.
هغه بشپړه نه وه،
**خو زموږ وه.**

اوس چې ستا وخت پای ته رسېدلی،
زموږ کیسه زما په وجود کې ژوندۍ پاتې ده:
ستا غږ، ستا څېره،
زموږ ګډ کلونه،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او ټول هغه واړه شیان
چې یو زوی یې له خپل پلار څخه اخلي،
بې له دې چې خپله پرې پوه شي.

ما غوښتل نور «وخت» هم درسره ولرم:
یوازې یوه ورځ نوره،
یوه خبره نوره،
یو کال نور له تا سره،
ما به تل له تا سره نور وخت غوښت.

پنځه دېرش کاله زما لپاره بس نه وو،
خو زه به هېڅکله ونه وایم چې هغه لږ وو.
ځکه زما د ژوند پنځه دېرشو کلونو
یو پلار درلود.
**هغو ته درلودې.**

د بنو وختونو لهپاره مننه،
د سختو وختونو لهپاره مننه،
د هر هغه څه لهپاره مننه چې تا ماته راکړل،
او د هر هغه څه لهپاره چې زما په وجود کې
ستا له امله جوړ شوي دي،
له تاسو نه مننه چې له ماسره مو ژوندوکړ
او تر ټولو مهم:
**مننه چې ته زما پلار وې.**

زموږ په منځ کې مړینه باید وروستۍ خبره نهوي،
له همدې امله تاسو ته زما وروستۍ خبره،
خدای پاماني نه ده.

**مننه.**

د لیکوال نوري لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

[http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95](http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95)